**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## هندو دولت څکه په اشغال شوي کشمیر کې د G-20 کنفرانس جوړولو جرات وکړ چې د پاکستان واکمنانو د کنټرول پر کرښه په اوربند زموږ د وسله‌والو ځواکونو مخه نیولې

(ژباړه)

هندو دولت د اشغال شوي کشمير په سرينګر کې د G-20 درې ورځنۍ غونډه نيسي چې د مې په ۲۲مه پيلېږي. دا په اشغال شوي کشمير کې د هندو دولت د ظالمانه اشغال د مشروع ښودلو يوه بله هڅه ده. هندو دولت دا جرات څکه وکړ چې د پاکستان واکمنانو د کنټرول پر کرښه په اوربند زموږ د وسله والو ځواکونو – چې هم د ازدۍ تږي دي او هم يې وړتيا لري- لاسونه او پښې تړلي. که د پاکستان پوځ د کنټرول پر کرښه جدي دريځ نيولی وای يا په اشغال شوي کشمير کې د جهاد بنسټونه پاتې وای؛ هند به په سرينګر کې د G-20 کنفرانس جوړولو فکر کړی و؟ هېڅکله نه. اوس د پاکستان واکمنان په دغه کنفرانس کې د چين او ځينو اسلامي هېوادونو د ګډون نه کولو پرېکړه خپله بريا ښيي. په داسې حال کې چې دا کار نه د ۲۰۱۹م کال، د اګست په ۵مه په هند پورې د اشغال شوي کشمير د تړلو پرېکړه لغوه کوي او نه اشغال شوی کشمير ازادولی شي.

حقيقت دا دی چې د پاکستان واکمنانو په اشغال شوي کشمير کې د G-20 کنفرانس جوړولو لپاره له هندو دولت سره د تسهيل کوونکي په توګه کار وکړ. د ۲۰۱۹م کال په اګست کې د هندو دولت له لوري په زور په ځان پورې د اشغال شوی کشمير تړل د سرو کرښو ښکاره ماتول وو. هندو دولت ته بايد د دغه کار په غبرګون کې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړل شوی وای. خو د پاکستان حکامو د خپل بادار، امريکا په امر د دې پر ځای چې د کنټرول پر کرښه وسله وال ځواکونه بسيج کړي؛ هڅه يې وکړه چې د پاکستان د مسلمانانو او وسله‌والو ځواکونو غوسه سړه کړي. د دې لپاره يې ځينې کړنې وکړې؛ په اسلام اباد کې يې د کشمير د لويې لارې نوم د سرينګر لويې لارې ته بدل کړ؛ د پاکستان په رسمي نقشه کې يې اشغال شوی کشمير د خپلې خاورې په توګه وښود؛ په اونۍ کې د څو دقيقو لپاره په کوڅو کې ودرېدل او پر متو يې تورې پټې وتړلې او په ملګرو ملتونو کې يې وينا وکړه. له هغه وروسته د پاکستان واکمنانو هندو دولت ته اسانتياوې برابرې کړې؛ د ۲۰۲۱م کال د فبرورۍ په ۲۵مه يې د کنټرول پر کرښه د اوربند تړون لاسليک کړ. دوی دا کار د خپلو امريکايي بادارانو په امر وکړ چې د مودي له لوري د اشغال شوي کشمير د جبري الحاق ټينګښت ډاډمن کړي. دغو اسانتياوو برابرولو هندو ايالت ته جرات ورکړ چې G-20 کنفرانس په اشغال شوي کشمير کې ونيسي.

د پاکستان سیاسي او پوځي واکمنان له لسیزو راهیسې د اشغال شوي کشمیر په اړه امت ته دوکه ورکوي. دوی ادعا کوي چې د کشمیر د مسلمانانو لپاره به د سیاسي، معنوي او ډیپلوماټیکي ملاتړ برابرولو ته دوام ورکړي. ایا د مظلوم مظلومیت یوازې په سیاسي، معنوي او ډیپلوماټیکي ملاتړ پای ته رسېدلی شي؟ هېڅکله نه. دوی دغه راز ادعا کوي چې غواړي د اشغال شوي کشمیر اشغال د ملګرو ملتونو د حللارو له مخې ختم کړي. ایا دوی ته دا نه ده څرګنده چې ملګري ملتونه پخپله د اشغال یوه وسیله ده؟ دوی نه پوهېږي چې ملګري ملتونه یوازې هغه حللارې وړاندې کوي چې د امریکا او غربي اشغالګرو هیوادونو له ګټو سره سمې وي؟ د ملګرو ملتونو حللارو ته په تمه کېدل یوازې دومره کوي چې هندو دولت د خپل اشغال د ټینګښت لپاره ډېر وخت پیدا کړي.

ظالمان او اشغالګر چې څو په زور ونه ایستل شي؛ تر هغه یې ظلم او اشغال نه ختمېږي. الله سبحانه وتعالی فرمایي،

**[وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ]**

**ژباړه:** *«له هغوی سره هر چېرې چې مخامخ شئ وجنګېږئ، له هغه ځایه یې وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یئ...»* [بقرة: ۱۹۱]

واکمنان مو باید هېڅکله دوکه نه کړي. باید پوه شو چې یوازې هغه څه وکړو چې الله سبحانه وتعالی یې امر کړی. د الله سبحانه وتعالی احکام یوازې هغه دولت پلي کولی شي چې د الله سبحانه وتعالی د دین پر بنسټ جوړ شوی وي او اسلام بشپړ پلي کړي. دا دولت د نبوت پر منهج راشده خلافت دی. خلافت د ملګرو ملتونو او نړیوالو قوانینو په ګډون اوسنی نړیوال استعماري نظم ته غاړه نه ږدي. خلافت به د مظلومانو غوښتنو ته ځواب ووایي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّاً وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيراً]**

**ژباړه:** *«په تاسو څه شوي دي، چې د الله تعالی په لاره کې د هغو بېوسو نارینه، ښځو او ماشومانو لپاره نه جنګېږئ چې کمزوري کړل شوي دي، تر فشار لاندې نیول شوي دي او فریادونه کوي چې : اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ لپاره سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»* [نسأ: ۷۵]

د دنیا او آخرت د عزت او په دنیا کې د ظلم د پای ته رسولو لپاره د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړئ.

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۴مه**

**۲۰۲۳م کال، د مې ۲۴مه**

**د صدور ګڼه: ۳۸/ ۱۴۴۴**

ژباړه: فريدون محتاط